# د هغه هدايت او علم بېلګه چې زه پرې الله رالېږلي يم، د هغه ډېر باران په څېر دی چې پر ځمکه وشي

له ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د هغه هدايت او علم بېلګه چې زه پرې الله رالېږلي يم، د هغه ډېر باران په څېر دی چې پر ځمکه وشي، نو ځينې برخې يې حاصل خېزه وي چې اوبه جذبوي، نو ډېرې بوټي او واښه پرې راشنه شي او ځينې برخې يې وچې او سختې وي چې اوبه ساتي، نو الله تعالی پرې خلکو ته ګټه ورسوي، ترې وڅښي، کروندې پرې اوبه کړي او کښت وکړي او ځينې برخې بيا دومره بې ګټې وي چې نه اوبه ساتي او نه بوټي رازرغونوي، نو دا د هغه چا مثال دی چې د الله په دين کې پوهه لري او هغه څه ورته ګټه رسوي چې زه پرې الله رالېږلی يم، نو خپله زده کړه کوي او نورو ته يې هم ښايي، او د هغه چا مثال چې پدې لاربښوونې سره سر نه پورته کوي او د الله هغه هدايت نه قبلوي چې زه پرې رالېږل شوی يم».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم د هغه چا د حالت په حېرانتيا سره مثال ورکړ چې له هغه هدايت څخه ګټه اخلي چې هغه پرې رالېږل شوی او انسان خپل منزل ته رسوي، او د شرعي علم مثال يې د هغې ځمکې سره ورکړ چې ډېر باران پرې وشي، نو په درې ډوله شي: لومړی ډول: پاکه او ښه ځمکه ده چې د باران اوبه مني، ډېرې تازه او وچې ميوې رازرغونوي او خلک ترې ګټه اخلي. دويم ډول: داسې ځمکه ده چې اوبه ساتي خو بوټي پرې نه زرغونېږي، اوبه ساتي تر څو يې خلک وڅښي او خپل څاروي او کروندې پرې خړوب کړي. دريم ډول: هواره او خويه ځمکه ده چې نه اوبه ساتي او نه پرې کښت زرغونېږي، نو نه ترې خپله ګټه پورته کوي او نه خلک. نو همدا د هغو خلکو حال دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه علم او هدايت په اړه يې اورېدلي وي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې رالېږل شوی دی. نو لومړی: هغه عالم دی چې د الله په دين پوه وي، په خپل علم عمل کوي او نورو ته يې ورزده کوي؛ نو دی د هغې ګټورې ځمکې په څېر دی چې اوبه څښي، هم ځانته ګټه رسوي او هم په حاصل ورکولو سره نورو ته ګټه رسوي. دويم: هغه څوک دی چې علم يې زده کړی وي خو پوهه او استنباط ترې نه لري؛ نو دی د پوهې راټولونکی او وخت پرې لګوونکی دی، خو د علم په نوافلو يې عمل نه دی کړی او يا يې د هغه څه په اړه پوهه نده ترلاسه کړې چې راټول کړي يې دي، نو دی د بل لپاره وسيله ده او د هغې ځمکې په څېر دی چې اوبه پکې پاتې کېږي او خلک ترې ګټه اخلي. دريم: هغه څوک دی چې علم اوري، خو نه يې حفظوي، نه پرې عمل کوي او نه يې نورو ته رسوي؛ نو دی د هغې خويه ځمکې په څېر دی چې بوټي پکې نه وي او نه اوبه مني او يا يې په نورو خرابوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4233